# پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کښې

- په منځنی او غربي ایشیا کښې دوه ډوله ژبې وئیل کیږي:
- ۱ – یوه ډله یې اروپائي یا هندو اروپایي بولي، چې په هند، افغانستان او ایران کې ویل کیږي او په اروپا کي هم دغه ژبې ستهٔ، لکه لاتین، جرمني، انګریزي، فرانسوي او نوري.
- دا ژبي اریایي له دې جهته (وجې) بولي چې له پخوانیو اریایي اقوامو څخه پاته دي، دغه اقوام څلور زره کاله تر میلاد د مخه له یوه شمالي ځایه څخه چې هغه یې اریانا ویجه بلله، د افغانستان سیمو ته راغلله.
- دوی په دغه وخت کي یوه ژبه ویله چې د هغې کومه بیلګه او نخښه نه ده پاته او پوهان یې (اریک) بولي، یعني هغه ژبه چې اریایانو ویله.
- ۲ – دویمه ډله د ایشیایي ژبو څخه سامي ژبې بولي، چې په دغه کي عبري، عربي ، سریاني او نوري ژبې داخلي دي.

# پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کښې

- مجاور احمد زیار په خپل یوه نوي علمي او تحقیقي اثر (پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کښې) کښې یوه نوې عملي څېړنه وړاندې کوي او د پښتو او پښتنو په هکله لیکي:
- پښتو ژبه د ږغونو او ځینې ګرامري خواصو (خاصیتونو) له مخه د ختیزو اریایي ژبو په سهاکي ګروپ ورګډېږي.
- په دې ډله (ګروپ) کښې د پښتو برسېره ، له مړو ژبو څخه سهاکي او د ژوندیو ژبو څخه شغناني، واخاني، اشکاشمي، بزګلامي او منجماني ژبې هم ورګډېږي.
- دا ژبې د افغانستان په شمال ختیز او د تاجکستان د جهوریت په جنوب ختیز کښې موجودې دي، په دغو ژبو لږ خلګ خبري کوي.

# پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کښې

- نوو څېړنو او پلټنو پښتو د (سهاکو- تخار) خلکو وژبې ته ورګډه کړې ده، چې دغو خلکو د میلاد نه دوه پېړۍ د مخه د اوسنې افغانستان شمالې برخه (باختر) او ورپسې د اوسنې افغانستان خاوره لاندې کړه.
- د پښتو ژبې په هکله څېړنې دوه پېړۍ له مخه پیل شوې او دا پایلې ته رسیدلې چې پښتو یې د اریائي ژبو له کورنۍ څخه بللې ده.
- دلته هغه څېړنې په لنډول راوړو چې پوهانو په دې هکله تر سره کړې دي.

# پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کښې

- جیمز ډارمسټیټر (James Darmesteter)
- په ۱۸۸۸ کال دا خبره زبات ته ورسوله چې پښتو له اوستا سره همکورنۍ ده او د اوستا هماغې لرغونې برخې (ګاټا) ونه رسیږي.
- ډارمیسټېټر څرګنده کړه، چې څنګه چې پښتو ویونکي د هندي ژبو په ګاونډ کې اوسېدلي دي، څه د پراکریټ په منځني پړاو او څه د وسمهالو هندي ژبو په پړاو کې،
- نو دغو ژبو یو لړ اغېزې پې راخپلې کړي دي، خو واقعیت هماغه دی چې پښتو د اوستا همکورنۍ ده.

# پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کښې

- ❖ دلته ډار میسټېټر په لومړي ځل په ۱۸۸۸کال کښې پښتو په غوڅه توګه اریاني او بیا شمال ختیزه اریاني ژبه زباته (ثابته) کړه، او د پښتو ګړپوهې / صرف (Morphology) په سریزه کې یې داسي په ډاګه کړه:

- ❖ د ګړپوهې له مخې پته ولګېده چې پښتو له هېڅ کومې هندي ژبې څخه رابېله شوې نه ده، بلکې په اریاني کورنۍ اړه لري او په په دې ډله کې له اوستا سره تړاو مومي.

- ❖ اوس د ګړپوهې له څېړنې سره یوځل بیا د دې پخلی کیږي چې پښتو هندي نه، بلکې اریاني ده او له هماغې ځانګې سره اړوندې (تړون) پیدا کوي چې اوستا ژبه ترې راټوکېدلې ده.

# پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کښې

- ویلیهلم ګایګر(۱۸۵۶–۱۹۴۳)(William Geiger)
- تر ډېر میسټېتر راوروسته دویم اریانپوهاند او پښتو پوهاند دی چې د پښتو د اریانیوالي او بیا شمال ختیزوالي پخلی کوي. ګایګر په خپل اړوند اثر (د پښتو اېتمولوجي او غږپوهه – بږغپوهه)

(Etymology and Lautlehre des Afghanischen)، چې په ۱۸۹۳ یې په مونشن ښار کې خپور کړی، د پښتو اړپوهه (اېتمولوجي) او بږغپوهه (فونولوجي) په همدغه چوکاټ کې له اوستا سره په پرتلیزه توګه څېړلې ده.
- په اېتمولوجیکه برخه کې یې (۳۸۹) غوره پښتو وییونه (توري) را اخیتسي او له اوستا او نورو زړو اریایي ژبو سره یې د پرتلې پر بنسټ د هغواره او سته راسپړلې ده.

# پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کښې

- ګایګر د لومړي ځل لپاره پښتو بېواک (consonant) اوازونه له اوسني مثل شوي معیاري مونیمېکس (اواز پوهې) سره سم (۲۹) ښوولي او خپلواک هغه یې د مورګن ستیرنې غوندې د (U ، O) له نا ارزښتمنو (irrelevant) اوږدونو سره نهو (۹) ته رسولي چې مورګن ستیرنې هر ګوره خپله دغه تېروتنه ځای پر ځای سمه کړې او د هغو نا ارزښتمني یې څرګنده کړې ده.

- ګایګر د ډار میستېټر دا ګروهه هم ورسموي چې ټول غبرګژبیز اوازونه، نه بلکې یوازې ( ټ او ډ ) د پورویپونو په ترڅ کې له هندي څخه پښتو ته راغلي دي.